ډاکټر نبي مصداق ۲۰۱۵/۱۲/۱۵

# ولې دومره بې باوري؟

په افغانستان کې هغه ډیمو کراسي چې له لودیځ نه( کاپي اوپست) شوی ځیني لیکوالانو ته داسي مفکوره ور پیدا کړ ی چې ګني بې د موضع په پوهیدو او یابې له کوتحقیق نه هر څه چې غواړي ولیکي هغه چاپولی شي. ځکه دداسي کسانو په فکر«دا دبیان آزادي ده»!!

د افغانستان اولس او مسؤلو لیکوالانو، په تیره د نوي حکومت له جوړیدونه وروسته ، تل ویلي چې د افغانستان صلحه په پاکستان او امریکا پورې اړه لري. کله چې دا دوه هیوادونه وغواړي نو بیا صلحه ټینګیدای شي. که څه هم زمونږ اولس حق لري چې په پاکستان دیر بې باوري وی، او ولسمشر غني هم د یو کال هلو ځلو نه ، اوس له ولس سره د پاکستان په باب همنظره شوی دی. ولسمشرپاکستان ته د آسیا د زړه په کنفرانس کې، برسیره د ډیرو نورو هیوادو د بهرنیو چارو وزیرانوسره په خبرو، د پاکستان دلوی درستیز راحل شریف سره دوه په دوه: افغانستان، پاکستان ، او چین سره دري پر دري او ا افغانستان ، پاکستان، چین او امریکا سره څلور په څلور خبرو کې د لمړي ځل لپاره، دوه لوی قوتونه چې امریکا او چین دي په عملي ډول، افغانستان ته د سولې په راتلو کې دخیل کړل او هغو ي د سولې لپاره ټینګه ژمنه د ضمانت تر کچې وکړه . دبلې خوا درې واړو هیوادو د افغانستان د تمامیت ارضي ضمانت هم وکړ. په دې خبرو کې د ولسمشر دډیرې حوصلې ډیپلوماسي دې ته اړ کړل چې پاکستان به طالبان ،افغانستان حکومت سره خبرو ته کینوي او هغه طالبان چې جنګ ته دوام ورکوي ددواړو، افغانستان او پاکستان لخوابه تر حملو لاندې راځي. وزیر خارجه، ښاغلي رباني هم ویلي چې « د اسیا د زړه د کنفرانس په حاشیه کې پاکستاني چارواکو د سولې په تړاوو واضح تعهد کړی دی او امریکا په ځانګړي ډول له دغو هڅو د ملاتړ ژمنه کړی ده.» ښاغلي رباني په یوه بله مرکه کې په دې اړه په تکرار سره دده له خولې داسي نقل قول شویدی: (د بهرنیو چارو وزیر صلاح الدین رباني وویل "په واضح ډول د امریکا او د چین د استازو په شتون کې موافقه وشوه، چې له هغو ډلو سره چې د سولې او مذاکراتو نه ډډه کوي، باید په لاس کې د شته امکاناتو په واسطه جدي او قاطع مبارزه وشي). ریس جمهور ډاکټر اشرف غني پخپله هم وویل چې د سولې خبري به په راتلونکو څو اونیو کې پیل شی څو سرتاسري صلحه به وخت ونیسي ځکه د ۱۴ کالو جنګ او هغه بې اعتمادي او غلط فهمي چې په منځ کې شته په څو میاشتو کې له منځه تلی نشي.

. ډاکټر غني په دې تیر کال کې هیر شوی او وروسته پاتي افغانستان، د ترانسپورت، تجارت،انرژي اوبو رسونو له مخې په واقعیت سره د آسیا د زړه په حیث دنیا ته ور وپیژندلو او د افغانستان لپاره اوږد مهاله پروژې لري چې د ټاپي ۳۰ کلنه پروژه یې پیل او په نورو باندي کار روان دی. د ډاکټر اشرف غني لری دید دادی چې افغانستان به مرکزي آسیا له جنوبي آسیا سره او دا دوه برخې به د منځني ختیځ سره وصل کړي. ددې ټولو او نورو پروژو د عملي کیدو کلي سوله ده او ریس جمهور خپل ۸۰ په سلو کې وخت همدی تحمیل شوو جنګونو ته وقف کړی دی.څو د سولې په راتلو سره به، دده په نظر، د افغانستان د جوړیو لپاره حتی زمونږ نني بشري قوه کفایت ونکړي او برسیره په هغو هیواد والو چې اوس بهر ته روان دي، هغوی او نورو خارجي کار ګرو ته به هم ضرورت ولرو چې د ګران وطن په آبلدولو کې متې را پورته کړي. ځکه زمونږ د معدنونو په را سپړلو، د سړکونو، ریل او اوبو په مالیاتو، په دریابونوباندي د لسهاو بندونه جوړول، په جګو برخو باندي د بریښنا ژرندې لګول او د نفوس ساحو ته نږدې د لمر نه په استفادې، انرژي په داسي یوه اندازه تولید کړوچې هند او پاکستان ته به یې صادر وو. مونږ به د اور ګادي په پټلیو ایران او منځنۍ ختیځ له چین او مرکزي آسیا سره وصل کړو، او هم به افغانستان د ترکمنستان له لاری له قفقاز او اروپا سره ونښلوو. دا د افغانستان لپاره د ډاکټر غني د لرې مودې د دید یوه برخه ده.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

زما خپل نظر دادی چې اشرف غني باید په یوه اروپايي او یا امریکایي هیواد کې جمهور ریس وی. هلته به د ده د لرې مودې دید او پلانونو نه قدر داني شوی وی او په عملي کولو کې به هم له ډیرې بد بینې، شک او ضن سره نه مخامخ کیدو . په افغانستان کې له بده مرغه له کاتب نه تر وزیر او سفیر پوری اکثریت غله او د سوء استفادې قهره مانان دي. نو که اشرف غني هر ډول زمونږ د وطن د ښیراځی او آبادي پلان او نقشه هم وړاندې کړي ، ددوی د قناعت سبب نګرځي. پوښتنه داده چې دا مخا لفین څوک دي؟
اول درجه مخالفین هغه کسان دي چې په پخواني بې بندو باره حکومت کې یې لوړ مقامونه درلودل اوډیرو بې بېدریغه رشوتونه خوړلي او غواړي چې بیا په قدرت راشي نو کله د غیر قانوني لویې جرګه او یا بل مؤقت حکومت خبرې کوي.
دوهمه درجه مخالین د قراردادونو هغه اختلاس ګر دي چې په سلهاؤ ملیونه ډالره یې خوړلي او ددوی د قراردادونو په راسپړلو کې دا سوء استفادې اشرف غني برملا کړیدي.
دریمه ډله هغه د ځمکی او جایدادونو غاصبین دي چې د یو نیم ملیون جربه ځمکو نه زیات یې غضب کړي او نغواړي چې دهغو او یا نورو مالونو او جایدادونو چې په زور یې لاس ته را وړي ، حساب او کتاب ورڅخه واخیستل شي.
لمړې دوې ډلې ویل کیږي چې حتی ځینې لیکوالان هم په کرایه کړي دي چې غني ته په هېڅ موضوع کې کرډېټ ور نه کړي.
څلورمه مخالفه ډله مافیاوي ډلې دي چې نه غواړي سوله او ارامي راشي؛ ځکه په سوله کې د دوی خیر نشته. دا یوه خطرناکه ډله ده چې د دولت په ملکي او نظامي برخو کي هم ددوی لاس دی او په هر ډول دریشیو او موټرو کې وژل او پیسو له پاره تیښته ول کوي.
پنځمه ډله هغه خلک دي چې په سوله کې خپل زیانِ ویني. دوی د طالب، داعش او نورو ورانکارو په نوم داسې کړه وړه ترسره کوي چې د سولې په بد نامې تمام شي.
وروستۍ ډله هغه خوشباوره کسان دي چې دازمویل شوو ډلو لکه کمونیستان یا پخوانۍ مذهبي ډلو، سر سخته طرفداران دې او عقیده لرې چې که هغوی په قدرت راشی نو د افغانستان ټول کړاونه به حل شي. خو واقعیت د امر دادی چې همدا اوس هیڅ کس او یا ډله نشي کولای چې روان جنګ ختم کړي، یا له ګاونډیانو سره زمونږ کړاونه حل کړي او یا هم زمونږ اقتصادي حالت کې په زړه پورې بدلون راولي. دا حکومت هغه حکومت نه دی چې ملیونو خلکو ورته راې ورکړې. پخپله ډاکټر غني هم ویلي دي چې اوس زه د داسې یو حکومت په چوکاټ کې چې لرم یې کار کوم خو د پنځوکالو په موده کې به ټولې هغه وعدې چې کړي مې دی پر ځای کوم.
صمنًا منفي ګرا لیکوالان، زمونږ ولسمشر چې پاکستان ورته په خاص احترام او د تود هرکلي په لړ کې ۲۱ توپونه ویشتل دې ته په مسخرې سره ولیکل چې (د توپونو په ډزولو یې بیا تیر ایست ...) او یا هم ، (متفکر یو ځل بیا تیر ووت) او.. . خوشحال آصفي په یوه صفحه منفي بافي کې چې په سلهاو ځل تکرارشوي دي او خلک ورڅخه خسته شوي لیکي چې (په دغه یو کال کې تقریبا ۱۵۰۰۰۰ هیوادوال له هیواده بهر وکوچیدل، د حکومت کورنۍ او بهرنۍ ډیپلوماسي او پالیسي مو دومره کمزورې شوې چې تر اوسه نه یو توانیدلي د پاکستان دوه مخیتوب وپیژنو او پر وړاندې یې ورته دریځ ونیسو).
د۱۵۰۰۰۰ هیواد والو د کوچیدو علتونه ډیردی: ډیر هغه ځوانان دې چې د ترجمانانو په ډنډوکې زمونږ دزرهاؤ خلکو د قتلونو سبب ګرځیدلي دي. هغوی د ځان لپاره په افغانستان کې روښانه راتلونکې نه ویني او اروپا ته د مهاجرو له سیلاب سره ګډ شول.بل داچه اوس پاسپوزت آزاد شوی او دا په افغانستان کې یوه نوې لاسته را وړنه ده، نو د نورو ملکو په شان اوس افغانان هم د خپلې خوښې په لاره په سفرونو کې دي. یو شمیر نور چې دغربې یو نیم لک عسکو او څلور نیم لک قراردادیانو له خوا اسخدام شوي وو یو اوپه ډالرو به یې معاش اخیست او د پنجشنبه او جمعې ورځې به یې په دوشنبه، دوبی ، ډهلي او نورو ځایونو کې په عیاشئ تیرولی او د هغو په وتلو سره، د دې تحمل یې نه درلود چې افغاني معاش ته کیني نو یوځل بیا د ډالري معاشونو په خیال له وطن نه وکوچیدل. خو په دې کې شک نشته چې یو شمیر یې د بې روزګارۍ دستونځې نه وطن پریښودوته مجبوره شوی دي.
د منفیګرایو په لړ کې همدې کرایه شوو لیکوالانو، د پاکستان له لوري د «لیک» تر عنوان لاندی یو اتهام هم په ولسمشر داسې ور وتاپه: « د افغانستان حکومت باید د ملي امنیت له لیکو هغه عناصر لرې کړې چې پاکستاني طالبان حمایه کوي. دارنګه باید یو شمیره هغه افغاني رسنۍ چې سرحد ته د کرښې کلیمه کاروي باید د کرښې په


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ځاي د سرحد  کلیمه استعمال کړي.» ډاکټر اشرف غني په قهرجنه لهجه وویل چې داسي کسان خیانت په لور روان دي .  مونږ به سلکاله نور هم وجنګیږو خو چاته به دا حق ورنکړو چې مونږ ته په خپلو اداراتو کي د مقررې او عزل لارښونه وکړي.
ښه خبره خو دا شوه چې دا تور د دو ورځو په موده کي د ځینو ورځپاڼو له خوا رد شو. ویسا ورځپاڼي لیکلي «د پاکستان د غوښتنو لیک جعلي دی... د ملي امنیت ویاند تواب غورځنګ، مشال راډیو سره په مرکه کي ویلی، « هیڅ داسي لیک ورته ندی رسیدلی او په رسنیو کي چي کوم لیک ښودل شوی، هغه جعلي دی.»



13.12.2015 (22.09.1394)

**الکترونیکي تذکرې ولي نه توضیع کیږي؟**

**ډاکټر نبي مصداق**

زموږ حکومتونه له هغه وخته چي متوجه شوي دي چي هر افغان وګړی باید د خپل هویت د تثبیت لپاره، د بشپړ شهرت یوه وثیقه ولري، نو د تذکرو له لارې یې د اکار ترسره کړیدی. د همدې تذکرو له مخي به ځوانان عسکرۍ ته جلبېدل، د کار کسان به پر حکومتي کارونو مقررېدل او داسي نور ....
خو د وخت په تغیر سره، کاغذي تذکرو خپل باور له لاسه ورکړی؛ ځکه چي په کي تقلب کول ډېر آسان او په ډېرو مواردو کي ور څخه سوء استفادې شوي دي .
د ملي یوالي د حکومت په منځته راتلو سره او په تېرو ټاکنو کي چي د تذکرو له مخي په رائیو اچولو باندې کومي نیوکي وشوې، ولسمشر اشرف غني پرېکړه وکړه چي باید د نړۍ د نورو هېوادونو په شان، د هېواد د هر وګړي شهرت د ډیجټل په ډول ثبت شي او د دې کار لپاره د الکترونیکي تذکرو وېشل، په ټولو افغانانو باندې، یو ضروري کار وګڼل شو. خو له بده مرغه، مخکي له دې چي په دې تذکرو کار پیل شو او حتی د امتحان په ډول یې په کابل کي پر پنځو لکو مامورینو هم ووېشلې، ډېر غور نو شوی. حکومت ته بیا معالومه شوه چي د تذکرو له وېش نه مخکي باید ځیني مهم اصلاحات پکي راغلي وای او که نه، دا به د نړیوالو نورمونو په مطابق نوي او هم به د توضیع لپاره له بهرنیو منابعو نه، په مالي مرستو کي له ستونزو سره مخامخ شي .
ولسمشر غني ډاکټر فاروق وردان ته د تذکرو په اړوند دنده ورکړه؛ تر څو دا موضوع په دقت وڅېړي او خپل ریپوټ ولسمشر ته وړاندې کړي .
ډاکټر صیب وردان وایي، په هغو تذکرو کي چي همدا اوس طبعه شوي، درې عمده ستونزې لري چي باید لومړی هغه رفع شي. ځکه، که موږ غواړو چي له الکترونیکي تذکرونه، د ولسوالیو، ولایتونو او پارلماني ټاکنو لپاره استفاده وکړو؛ نو په تذکرو کي باید نارینه، یا ښځینه (جندر) هویت واضع شي .
ځکه چي افغانستان اوس د ډیموکراسی لاره، پر مخ کړې، کفایت نه کوي چي د یوې مبرمنی هویت، منحیث د دې، واضح شوی نوي .



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په خیر و لولئ

دويم : په مجوده چاپي تذکره کي معلومه نه ده چي له کومي نېټي نه تر کومي نېټي پوري د اعتبار وړ ده. په هر ډول په ملي هويت پاڼه کي، که پاسپورټ وي او که تذکره باید د اعتبار او اکسپاېرشن يعني وروستی د اعتبار نېټه يې معالومه وي .
دریم : پدي تذکره کي باید په مليت باندي چي افغان دی تصمیم ونیول شي او دا باید حتمي وي. خو د قوم او قبيلي ليکل دي پکي اختياري وي. که چا غوښتل چي خپل قوم وليکي او يايي ونه ليکي هغه به په شخص پوری اړه ولري .
څلورم : الکترونيکي تذکره په ټول افغانستان کي، د انټرنېټ موجوديت ته ضرورت لري او هغه هم بايدد (جي ۳ ) په اندازه وي، تر څو د توضيع په وخت کي، د کابل په مرکزي ډيټابېس کي ثبت شي او په دي ترتيب بيا يو څوک ونشي کولای چي هم په کابل او هم کابل ته نيږدي خپل ولايت کي هم د دوهم ځل لپاره رايه ورکړي، څکه چي تر اوسه د دي امکان شته دی .
پنځم : د تذکرې د وېشلو هارډوير او سافټ وير باید تعریف شي او هم باید واضع شي چي له تذکری نه، په کومو موارډو کي استفاده کېدای شي .
ډېر مهم نظر دا دی چي باید د دي الکترونيکي تذکری نه د کريډت کارډ په ډول هم استفاده وشي چي په دې ډول د تذکرې راتلونکي ټول مصارف به له همدي لارې تامينيږي. خو باید ووایم، کله چي بېلې،بېلې کړی خبرې شوي دي چي له تذکری نه عايد هم تر لاسه کېږي، هر يو غواړي چي په دې برخه کي شامل و اوسي.     همدا اوس په يو انټرنيټي بورډ باندې چي د انټرنېټ له لارې د رايو بانکي تذکره نومېږي ،کار روان دی . په خپله ولسمشر چي غواړي د حکومت په هره برخه کي د فساد مخه ونيسي، غواړي يو کمېسيون وټاکي چي دا برخه تر نظارت لاندي ونيسي؛ تر څو د تذکرې عايد حيف و ميل نشي.
 يوه بله ستونزه چي بايد حل شي د افغانستان پر ۳۰-۳۵ ميليونو وګړو باندې د يادو تذکرو وېشل دي. که وغواړو چي هر چا ته د اړوند مرکز لخوا په ښارونو، ولايتونو او ولسواليو کي دا تذکرې توضيع کړو، له لسو کالو نه به هم زيات وخت و نيسي. نو بايد يوه لاره پيدا شي چي څرنګه د يوه کال په موده کي دا نوي تذکری چي د پورته ستونزو د رفع نه وروسته له چاپه را وځي، وېشل کېدای شي. که لوستونکي په دې هکله څه نظر لري ، لطفاً دې له موږ سره شريک کړي .
د تذکرو په وېشلو کي باید ډېر دقت وشي  زيار ووېستل شي چي بهرني اطباعو ته او هم يو تن ته دوه يا زياتي تذکرې ورنکړل شي .
نو د ولسمشر مخالفين تل، بې له دې چي پورته ستونزې په نظر کي ونيسي، تنقيدي ليکني کوي. همدا اوس موږ د افغانستان په ځينو ولاياتو، او په ولسواليو کي حتی برق نه لرو، او نه هم د انټرنېټ پايي بندې شوي دي. که دا تذکرې اوس وویشل شي، له همدې کاغذي تذکرې نه به يې ګټه زياته نه وي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ